مسیر
ورځپاڼه
نوی لید، نوی مزل
www.maseerdaily.af
یکشنبه د ۱۴۰۰ د غويي پنځمه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۵مه | ۷۱۲مه گڼه

# د بایډن د پرېکړې عملي کول؛

## له افغانستان د امریکايي ځواکونو د وتلو لپاره چټک تیارۍ روان دي



۳

### د سولې ورکې هڅې او د جگړې زیاتوالی

۲ مخ

### تاثیر ایالات متحده امریکا بر بحران در اوکراین

۲ مخ

### امریکا چېرې روانه ده؟

۳ مخ

## د امریکا پوځ: د اړتیا په صورت کې په افغانستان کې هوايي بریدونو ته دوام ورکوو

ډیلي بیسټ خپرونې د امریکايي پوځي چارواکو له قوله ویلي، چې له افغانستان څخه د امریکايي سرتېرو تر وتلو وروسته هم د اړتیا په صورت کې هوايي بریدونو ته دوام ورکوي. ډیلي بیسټ د امریکايي مرکزي قوماندانۍ د قوماندان جنرال مک‌کنزي له خولې ویلي، چې امریکا په افغانستان کې د ترهگرو فعالیتونه له نږدې څاري او که اړتیا یې وه، نو د بې پیلوټه الوتکو په واسطه به خپلو هوايي بریدونو ته دوام ورکړي. راپور کاږي، امریکا ویلي چې دوی به د خپلو ځواکونو تر وتلو وروسته هم اجازه ورنه کړي چې دغه هېواد یو ځل بیا د ترهگرو پر خوندي ځاله بدل شي.
د ویلو ده چې تر دې وړاندې د برېټانیا د دفاع وزیر هم ویلي وو، که په افغانستان کې ترهگري وده وکړي، نو دوی به بیا هم نظامي اقدام وکړي.
په ورته مهال نیویارک ټایمز امریکايي ورځپاڼې په یوه لیکنه کې ویلي چې له افغانستان څخه د ځواکونو ایستل او دا هېواد یوازې پرېښودل تاریخي تېروتنه ده. د لیکنې لیکوال وايي، سره له دې چې امریکا افغانستان ته د دې لپاره ځواکونه ونه لېږل چې د افغان ښځو وضعیت ښه شي، خو عملاً میلیونونو نجونو ته ښوونځیو ته د تگ زمینه برابره شوه او بېلو برخو کې یې لوړې زده کړې وکړې. د لیکوال په باور، اوس دغو نجونو او ښځو ته شا اړول کېږي. راپور کاږي دغه راز د هغو نورو افغانانو چې په افغانستان کې یې د بشري حقونو او خلکو ته د ښه ژوند د برابرولو لپاره هلې ځلې کړې دي، پرېښودل به یې یوه تاریخي اشتباه وي او هېڅکله به افغانان د امریکایانو دا تېروتنه هېره نه کړي.

## کورنیو چارو وزات: د روژې میاشتې له پیل راهیسې ۲۰۰ نظامیانو او ملکیانو ته مرگ ژوبله اوښتې



۵ مخ

### پوهنتون

۴ مخ

## مستقبل د لوړو زده کړو موسسه

مستقبل د لوړو زده کړو موسسې د خپلو محصلینو د وړتیاوو لوړولو په موخه پر کور دننه سربېره، له هیواد بهر هم له ځینو پوهنتونونو سره علمي تفاهم لیکونه لاسلیک کړي دي.




## د اوسپنې پټلۍ اداره: تېره میاشت د اوسپنې پټلۍ له لارې تر ۴ لکو ټنو ډېر توکي صادر شوي




د اوسپنې پټلۍ اداره وايي، په تېره یوه میاشت کې د اوسپنې پټلۍ له لارې تر څلور لکه ټنو ډېر بېلابېل توکي صادر شوي دي. یادې ادارې په یوې اعلامیې کې ویلي چې د حیرتان ـ مزارشریف، تورغندۍ او آقینې اوسپنې پټلۍ له لارې هره ورځ په منظم ډول د سوداگریزو مالونو لېږد روان دی.
د دې ادارې چارواکي زیاتوي، چې په وروستۍ میاشت کې ۵ زره او ۱٦۸ سوه واگونه چې سوداگریزو مالونو باندې بار وو، دغه هېواد ته وارد شوي دي. اعلامیه زیاتوي، چې د صادراتو او وارداتو زیاته برخه خوراکي توکي، نفت او ساختماني مواد جوړوي. د سرچینې په خبره، د حیرتان- مزارشریف، آقینې او تورغندۍ اوسپنې پټلۍ له لارې په تېره میاشت کې ۱۳ زره او ٤۹۷ ټنه ډېر کرنیز او سوداگریز توکي له هېواد بهر ته صادر شوي دي.
دا توکي چې د مزارشریف- حیرتان، آقینې او تورغندۍ اوسپنې پټلۍ له تمځایونو څخه بار شوي وو، اوزبیکستان، روسیه او قزاقستان هېوادونو ته استول شوي.

## مسوولان امنیتی: نگران خروج سربازان خارجی نیستیم، برای دفع تهدید طالبان آماده‌گی کامل داریم



مسوولان ارشد امنیتی دیروز در یک نشست خبری مشترک اعلام کردند که برای دفع هر نوع تهدید از سوی طالبان پس از خروج نیروهای امریکایی و ناتو آماده‌گی کامل دارند.
محمدیاسین ضیا، سرپرست وزارت دفاع ملی در این نشست خبری گفت که نیروهای امنیتی توانایی دفاع را دارند و از هر حیث آماده‌اند که هر نوع تهدید طالبان را دفع کنند.
حمدالله محب، مشاور امنیت ملی کشور، نیز در این نشست خبری تأکید کرد که نیروهای امنیتی آماده دفع حملات طالبان هستند و مردم نگران خروج نیروهای خارجی نباشند.
به گفته حمدالله محب، جامعه جهانی با وجودی که از افغانستان خارج می‌شود، اما کمک‌های فنی و مالی‌اش با افغانستان ادامه می‌یابد. به گفته محب، در حال حاضر افغانستان ٦۳ هواپیمای جنگی دارد که همه کشور را تحت پوشش قرار می‌دهد و نیاز نیروهای هوایی را مرفوع می‌کند.
محب خاطرنشان کرد که نیروهای امنیتی افغانستان تسلط کامل بر وضعیت دارند و همسایه‌گان و کشورهای منطقه و شهروندان کشور تشویش نکنند.
مشاور امنیت ملی وجود مشکلات و دشواری‌ها در زمینه تأمین امنیت کشور را تأئید کرد، اما گفت که تلاش می‌شود این مشکلات حل شود.
حیات‌الله حیات، سرپرست وزارت داخله، در این نشست خبری گفت که طالبان همه‌ساله در فصل بهار به دلیل جمع‌آوری حاصلات کوکنار، جنگ را افزایش می‌دهند که نباید به خروج نیروهای خارجی در ماه می نسبت داده شود.


کتاب مو د ژوند ملگری کړئ
Aksos
اکسوس کتابپلورنځی
کابل دریمه ناحیه، د دهبوري پارک جنوبي دروازې ته مخامخ
0798-98-9696, 0202504652
www.aksosbookstore.af
Aksos Book Store
aksosbookstore@gmail.com

## سرلیکنه

# د سولې ورکې هڅې او د جګړې زیاتوالی

د هېواد په بېلابېلو ولایتونو کې د پرله پسې جګړو، نښتو او چاودنو خبرونه دي. هره ورځ د لسګونو امنیتي ځواکونو او طالبانو د وژلو ادعاوې کېږي. د افغانستان د خلکو د هیلو او غوښتنو خلاف جګړه زیاته شوې، چې پکې د ښکېلو لورو ترځنګ هره ورځ بې ګناه ملکي وګړي هم وژل کېږي. له دې سره د سولې هڅې هم په ټپه ولاړې ښکاري. نه یوازې د سولې خبرې روانې نه دي، بلکې ښکاري چې له جدي خنډونو سره هم مخ شوي دي.
د سولې ټولې هڅې ولاړې ښکاري، ځکه چې د استانبول غونډه ځنډېدلې او په دوحه کې هم خبرې نشته. له دې سره هممهاله دواړه لوري د جګړې ادبیات هم کاروي. جګړه زیاته شوې او وېره ده چې لا به زیاته شي. طالبان له دې امله له خبرو په شا شوي، چې وایي امریکا ورسره ژمنې نه دي عملي کړي او دولت بیا طالبان ملامتوي چې له حکومت سره له خبرو تښتي او د سولې اراده نه لري.
امریکایي ځواکونه تر سپټمبر میاشتې پورې له افغانستان څخه وځي او که تر دې وخته د سولې په برخه کې اساسي پرمختګ ونه شي، نو د لا زیاتې سختې او خونړۍ جګړې وېره ده. د دې حالت د ماتولو لپاره دواړه اړخونه باید نرمښت وښیي. د پاتې طالب بندیانو د خوشې کولو لړۍ باید پیل شي او له ملګرو ملتونو هم وغوښتل شي چې طالب مشران له تور لېست څخه وباسي. له دې سره سم طالبان باید اوربند وکړي او په دې ډول د سولې په برخه کې یو مهم پرمختګ وکړي.
اوس مهمه دا ده چې دواړه لوري پر دې ولس زړه وخوږوي او پرېږدي چې په جګړه او غربت کې را ګیر ولس لږ د ارام ساه واخلي. اوس د ضد وخت نه دی او دا ضد د افغانانو د وینې تویېدنې او وژنې د دوام سبب ګرځي. دا هغه وخت دی چې هر لوری له خپله اړخه باید حسن نیت وښیي. طالبان دې د یو څه وخت لپاره د حکومت کړنې هېرې کړي، له خپله اړخه دې تاوتریخوالی کم کړي او ولس او نړۍ ته دې وښیي چې دوی د سولې غوښتونکي دي. حکومت دې هم د طالبانو بریدونه هېر کړي، د بندیانو د خوشې کولو پروسه دې پیل کړي او له خپله اړخه دې د سولې ضد څرګندونه او دریځونه پرېږدي. که یو لوری هم یو اړخیز مثبت ګامونه واخلي، بل لوری به مجبور شي، چې مثبت ګامونه واخلي.
اوس د جګړې له ښکېلو اړخونو یو مثبت او د سولې حرکت هم مهم دی او مخامخ د باور په زیاتولو او د جګړې په کمولو کې رول لري. له همدې امله پکار ده چې دواړه اړخونه له خپله اړخه د مثبتو ګامونو په اخیستو او د حسن نیت په ښکاره کولو کې سیالي وکړي.
د ښکېلو اړخونو اوسني دریځونه د جګړې دوام سبب شوي دي. پر دغو دریځونو ټینګار به جګړه وغځوي او د سولې په برخه کې به خنډونه هم زیات کړي. د دې وېره هم شته چې د دغه حالت دوام به یو مخ د سولې پروسې د له منځه تللو او د جګړې پخواني حالت ته د ور ګرځېدو سبب شي. له همدې امله پکار ده چې د سولې له اوسني فرصت څخه ګټه واخیستل شي او د جګړې مخه ونیول شي.

# تاثیر ایالات متحده امریکا بر بحران در اوکراین

«موضوع اوکراین» امروز در حال تبدیل شدن به یکی از مهمترین ابزارها برای ایالات متحده ای امریکا غرض وارد نمودن فشار بر روسیه میباشد که در واشنگتن، روسیه را بعنوان تهدید در برابر هژمونی امریکایی‌ها در جهان میپندارند. کدام نقش را ایالات متحده ای امریکا در ایجاد بحران در اوکراین بازی نموده و این نقش کدام وضعیت را بدنبال داشته است ؟
ایالات متحده ای امریکا از همان آغاز بحران در اوکراین، نقش کلیدی را در پیشبرد یک سناریو غرض برکناری غیرمشروع حکومت رسمی کیف بازی نموده است که این امر به نوبه ای خود باعث بروز اختلافات و مناقشات داخلی در کشور شده است. واشنگتن با حکم کردن بالای مقامات یک کشور دارای حاکمیت که چگونه و کدام کار را باید آنها انجام بدهند، «سمت‌گیری غربی» برای توسعه ای اوکراین را بعنوان «یگانه راه درست» تحمیل کرده است. امریکایی‌ها ضمن مردود شمردن اقدامات مشروع حکومت قانونی اوکراین، خط مشی حمایت از جریانات ضد حکومتی را اتخاذ کرده و به تشویق اعضای آنها پرداختند که با استفاده از زور، دست به اقدامات خصمانه میزدند.
در مرحله ای فعلی بحران، ایالات متحده ای امریکا امید خود را به یک سناریوی مطلقاً نظامی بسته است و کیف را برای پذیرفتن این سناریو وادار میکند. تمام کمک‌های مشخص که از ایالات متحده ای امریکا به اوکراین سرازیر میشوند، همه به هدف نگهداری از ماشین جنگی اوکراین بکار برده میشوند. این مطلب انسان را باین فکر میاندازد که ایالات متحده ای امریکا میخواهد تا که اوکراین به اقدامات نظامی ادامه بدهد. افزایش فعالیت های نیروهای مسلح کشورهای عضو ناتو، مقدم بر همه ایالات متحده ای امریکا در این اواخر در قلمرو اوکراین و بحیره ای سیاه در نزدیکی مستقیم با سرحدات روسیه جریان دارد. اجرای ۷ مانور نظامی مشترک در قلمرو اوکراین با شرکت کشورهای مختلف عضو این ائتلاف برای سال ۲۰۲۱ میلادی برنامه ریزی گردیده است. فعالیت های استخبارتی دولت های خارجی در اوکراین با استفاده از وسایل الکترونیکی مخابره در امتداد سرحدات با روسیه و خط تماس در دونباس اساساً تشدید شده اند. حمایت مالی و مادی-لوجستیکی از قوت های مسلح اوکراین از طرف کشورهای عضو ناتو، تحویل دهی تسلیحات پروازی و آموزش سربازان اوکراینی توسط مربیان غربی ادامه دارد.
واضح است که ایالات متحده ای امریکا با مطرح کردن سناریوی زورگویی در اختلافات در اوکراین، در صدد ضرر رساندن به روسیه میباشد. موضوع حل اختلافات موجود در اوکراین از راه های مسالمت آمیز اصلاً در واشنگتن به بررسی گرفته نمیشود.


عزیزي بانک
Azizi Bank

## د عزیزي بانک له لوري د خوراکي توکو د ویش لړۍ پیل






عزیزي بانک او د افغانستان اسلامي بانک د خپلو ټولنیزو او خیریه کړنو پر دوام، دا ځل د روژې په مبارکه میاشت کې د خوراکي توکو د وېش لړۍ پیل کړه، دغه لړۍ د عزیزي بانک او د افغانستان اسلامي بانک د رهبرۍ پلاوي او دولتي چارواکو لکه د کابل والي محمد یعقوب حیدري، د کار او ټولنیزو چارو وزارت مرستیال ښاغلي غلام حیدر جیلاني د علاوالدین یتیمخونې مشرې آغلې سیدې مجددي په حضور کې پرانېستل شوه، دغه خوراکي توکي به په ټول افغانستان کې په لس زره کورنیو ووېشل شي چې له هغې ډلې ۱۵۰۰ بستې په کابل کې او پاتې نورې بستې به په ولایتونو کې په بېوزله کورنیو ووېشل شي. په هغو مراسمو کې چې دغې لړۍ د پرانېستې لپاره جوړ شوي وه، د د عزیزي بانک رییس ښاغلي ډاکټر محمد سالم امید د غوره بانکي خدمتونو ترڅنګ په بېلابېلو برخو کې د عزیزي بانک په مرستو او لاسنیوي ټینګار وکړ. همداراز د کابل والي او نورو ګډونوالو د عزیزي بانک او د افغانستان اسلامي بانک له دغه نیک او پر وخت اقدام څخه ستاینه وکړه او دواړو بانکونو ته یې د لا بریاوو هیله څرګنده کړه. په دغه خوراکي بسته کې اوړه، وریجې، غوړي، بوره، چای، لوبیا، او کالیو مینځلو صابون شامل دي. عزیزي بانک تیر کال هم اړمنو او بې وزله هېوادوالو ته خوراکي توکي وېشلي وو.



CoAR 1989

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی
Citizens Organization for Advocacy and Resilience

## اعلان داوطلبی

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه IRC تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) در ولایت کندهار به تعداد ۲۰۵۳۱ بسته کتاب صنف اول الی چهارم خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی و مطبعه‌ها که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (25April /2021) الی (5May /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af



CoAR 1989

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی
Citizens Organization for Advocacy and Resilience

## اعلان داوطلبی

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه IRC تصمیم دارد که در ولایت کندهار برای حفظ الصحه شاگردان به تعداد ۴۷۵ باب تشناب اعمار نماید. انعده شرکت‌های ساختمانی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (25April /2021) الی (5May /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af



CoAR 1989

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی
Citizens Organization for Advocacy and Resilience

## اعلان داوطلبی

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه IRC تصمیم دارد که در ولایت کندهار برای حفظ الصحه شاگردان یک تعداد آبدانهای پایه‌دار خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (25April /2021) الی (5May /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .
procurement@coar.org.af

# امریکا چېرې روانه ده؟

ولي خان کارند

د سپټمبر د یوولسمې له پېښې چې امریکايي ځواکونو پر افغانستان حمله وکړه، په ظاهراً یا لنډمهال کې د دوی هدفونه دا وو چې د طالبانو حکومت او د القاعده ملاتړې رانسکور کړي او په افغانستان کې د القاعده ډلې پټنځایونه له منځه یوسي؛ ولې دوی پر افغانستان د حملې تر شا ځینې اوږدمهاله جیوپولیټیک اهداف هم درلودل، چې له جملې یې یو د مرکزي اسیا او قفقاز پر ساحو کنټرول او نفوذ و.

دغه دوې ساحې (منځنۍ اسیا او قفقاز) د شوروي اتحاد له پاشل کېدو وروسته په اتو ازادو جمهوریتونو وویشل شوې، چې د منځنۍ آسیا په ساحه کې یې پنځه جمهوریتونه (قزاقستان، ترکمنستان، ازبکستان، قرغیزستان او تاجکستان) او د قفقاز په ساحه کې یې (ازربایجان، ارمنستان او گرجستان) منځ ته راغلل. همدغه دوې سیمې چې د نفتو او گازو غني ذخیرې لري، د نړۍ د لویو قدرتونو لپاره په جیوپولیټیک تحلیل کې له ځانگړي اهمیت برخمنې دي. دغه نړیوال رقیب قدرتونه په دوو ډلو ویشلی شو، لومړی یې (Regional) لکه روسیه، چین، ایران او ترکیه او دویمه ډله یې (-Trans Regional) لکه امریکا، اسراییل، اروپايي اتحادیه، هند او پاکستان دي. له دغو دوو ډلو هره یوه یې په دې هڅه کې ده چې پر نوموړو ساحو نفوذ او کنټرول ولري. د امریکا راتگ دې سیمې ته د نورو ډېرو اهدافو تر څنگ، دغه هدف هم تعقیباوه او د امریکا د ستراتیژیکو اهدافو په سر کې یې ځای درلود. څنگه امریکا له شلو کلونو وروسته له داسې مهمو اهدافو تیرېږي او له افغانستان خپل ځواکونه باسي؟ دا هدف د امریکا لپاره څومره مهم و/دی؟ دوی څه غواړي؟ ولې خپل ځواکونه له افغانستانه باسي؟ په افغانستان کې څه پېښېږي؟ دا هغه پوښتنې دي چې په دې لیکنه کې مو ورته ځواب ویلی دی.

**د امریکا متحده ایالتونو لپاره د منځنۍ اسیا اهمیت**

۱- د منځنۍ آسیا ساحه د نفتو او گازو غني ذخیرې لري او دا ذخیرې کولی شي د چین د راتلونکو کلونو د انرژۍ تقاضا تر ډېره ورپوره کړي او د امریکا متحده ایالات چې د چین د اقتصادي ودې د مهار هڅه کوي، په هر قیمت غواړي چې پر یادو ساحو نفوذ ولري.

۲- د شانگهای د همکاریو سازمان چې په ۲۰۰۱ کال کې رامنځته شو او د جوړېدو اصلي هدف یې د سیمې امنیتي مسایلو ته رسېدنه وه؛ مگر په وروستیو څو کلونو کې د یاد سازمان موخو تغییر کړی او د یاد سازمان اوسنۍ کړنې پر اقتصاد او سیمه ییزه راکړه ورکړه څرخي او دې چارې چین ته زمینه برابره کړې چې منځنۍ آسیا د خپلو تولیداتو لپاره بازار وگرځوي. همدارنگه د شانگهای همکاریو سازمان یوازینی سازمان دی، چې امریکا یې په راتلونکي کې د خپل ځان او اقتصاد پر وړاندې لوی خطر گڼي او د یاد سازمان غړي خصوصاً چین او روسیه هم هڅه کوي چې د یاد سازمان تشکیل ته سیمه ییز هیوادونه را جذب کړي، څو په سیمه کې د امریکا د نفوذ پر وړاندې سپر وي چې ښه بېلگه یې پر ازبکستان د روسیې او چین فشارونه وو څو په یاد هیواد کې د امریکا حضور ته خاتمه ورکړي.

۳- پر منځنۍ اسیا کنټرول امریکا ته توان ورکوي چې د روسیې د سیمه ییزو اتحادونو مخه ډب کړي، لکه د (Commonwealth of Independent State) اتحاد چې د منځنۍ اسیا هیوادونه یې برخه دي او د دوی حضور په سیمه کې کولی شي چې روسیه له نوموړو هیوادونو جدا وساتي.

۴- په سیمه کې د امریکا حضور د دې باعث گرځي چې روسیه په خپلو جنوبي سرحدونو کې د عدم امنیت او نا ارامۍ احساس وکړي او د اوکراین او ناروې تر څنگ یې له یو بل لوري هم تر تهدید لاندې وساتي. همدارنگه په منځنۍ اسیا کې د دوی حضور په دې مانا دی، چې دوی خپل جیوپولیټیک سرحدونو ته د روسیې له جغرافیايي سرحدونو سره تطابق ورکړي.

**دوی څه کول غواړي او ولې افغانستان پرېږدي؟**

پورته او ډېر نور هدفونه وو چې په ۲۰۰۱ کال کې یې د امریکا پښه افغانستان ته راکش کړه او افغانستان د دې هدفونو د لاسته راوړلو لپاره د امریکایانو لپاره مهمه جیوپولیټیکه ساحه وه. په داسې حال کې چې له افغانستان څخه د دوی د وتلو نېټه اعلان شوې او له طالبانو سره یې توافق کړی چې له افغانستانه به وځي؛ ولې څو ورځې وړاندې په منځني ختیځ کې د امریکا د مرکزي قومندانۍ (سینټکام) مشر جنرال فریک مکینزي څرگندونو ښکاره کړه، چې دوی د خپلو اهدافو په تعقیب پسې روان دي. جنرال مکینزي چې د امریکا د استازو جرگې د پوځي خدماتو کمېټې ته یې خبرې کولې، وویل چې په طالبانو باور نشي کیدای او د دې امکان زیات دی چې افغانستان یو ځل بیا د تروریستي ډلو پر پټنځای بدل شي او د دې امکان د مخنیوي لپاره د مکینزي طرحه دا وه چې په افغانستان کې له گاونډیو هیوادونو (تاجکستان، ازبکستان او قرغیزستان) څار تر سره شي.

د امریکا له دې پلان جوتېږي چې دوی هغه هدف ته د رسیدو لاره تعقیبوي د کومو لپاره چې دوی په افغانستان کې شل کاله تېر کړل. که چېرې دوی له یادو هیوادونو سره موافقې ته ورسیږي او هغوی په خپلو هیوادونو کې د امریکا استخباراتي او پوځي حضور ته اجازه ورکړي، دا به د امریکا د ستراتیژیکو اهدافو په لور لومړی گام وي او په منځنۍ اسیا کې به د خپلو هدفونو تعقیب ته ادامه ورکړي او له افغانستانه وتل به هم یو تاکتیکي قدم وي، چې د خپلو اوږدمهاله اهدافو په لور یې اخلي.

**په منځنۍ اسیا کې د دوی حضور او پر افغانستان یې تاثیرات**

لومړی؛ دوی به د پاکستان په مرسته هڅه وکړي چې په افغانستان کې جگړې ته شدت ورکړي او په مختلفو نومونو تروریستي ډلې افغانستان ته راواستوي، څو نړیوالو ته وښیي چې په منځنۍ اسیا کې د دوی حضور اړین و او امریکا د همدې حالت وړاندوینه کړې وه، ځکه یې په منځنۍ اسیا کې خپل حضور غوښت.

دویم؛ په منځنۍ اسیا کې به د دوی حضور په افغانستان کې د ناارامیو له دوام سره تړلي وي، هرڅومره چې په افغانستان کې جنگ دوام کوي، د دوی حضور ته به په یادو هیوادونو کې مشروعیت ببښي او دا به افغانستان له اوږدمهالې جگړې سره مخ کړي.

په داسې یو حالت کې افغانستان یوازې سیمه ییز هیوادونه ژغورلی شي، هغه دا چې د افغانستان له ثبات او شته حکومت ملاتړ وکړي، ولې بدبختانه شواهد داسې دي چې سیمه ییز هیوادونه په افغانستان کې نیابتي جگړې ته چمتووالی نیسي او د ډلو په جذبولو یې کار پیل کړی او په دې هڅه کې دي، چې خپلې گټې د ډلو په تمویل سره خوندي کړي، چې څرگنده بېلگه یې د هند او پاکستان له لوري د ځینو ډلو دعوت او له هغوی پذیرایي ده.

# د بایډن د پرېکړې عملي کول؛

## له افغانستان د امریکايي ځواکونو د وتلو لپاره چټک تیاری روان دی



د جو بایډن تر اعلان وروسته امریکايي حکومت په چټکۍ له افغانستان د خپلو ځواکونو د وتلو تیاری پیل کړی دی. د تازه معلوماتو له مخې، امریکايي حکومت په منځني ختیځ او د افغانستان شاوخوا هېوادونو کې د خپلو سرتېرو شمېر ډېروي، څو وکړی شي په امنه فضا کې د ناټو ځواکونو وتلو ته زمینه برابره کړي. دغه راز د امریکا لویې جنگي الوتکې به په سیمه کې فعالیت کوي او دوی به د سرتېرو د وتلو بهیر اسانوي. همدا راز گڼو امریکايي چارواکو هم ویلي چې د سرتېرو د وتلو بهیر ته په چټکۍ تیاري روان دی.

وروسته تر هغې چې د امریکا ولسمشر جوبایډن له افغانستان د سرتېرو د ایستلو پرېکړه وکړه، تازه امریکايي چارواکو د دغه بهیر د بشپړولو لپاره هڅې پیل کړې دي. د امریکا د دفاع وزارت چارواکو رسنیو ته ویلي چې دوی په منځني ختیځ او د افغانستان په شاوخوا سیمو کې ټول احتمالي گواښونه څاري او د دغو گواښونو د ختمولو لپاره سرتېري ډېروي. دغه سرتېري به په سیمه کې د امریکايي او ناټو ځواکونو د وتلو بهیر اسانه کوي او هڅه به یې دا وي چې وکړی شي په خوندي توگه بهرني ځواکونه خپلو مېنو ته ستانه شي.

پنټاگون ویلي چې دمگړی یې منځني ختیځ ته د شپږو الوتکو د لېږلو پرېکړه کړې ده. د پنټاگون ویاند جان کربي وایي چې دوه بي ۵۲ ډوله الوتکې به په افغانستان کې وضعیت څاري او د سرتېرو د وتلو امنیت به تامینوي. هغه وایي چې ټولټال شپږ الوتکې منځني ختیځ کې ځای پر ځای کېږي او دا پرېکړه پنټاگون هم منلې ده. د دې تر څنگ نورو امریکايي چارواکو او بهرنیو رسنیو ویلي چې له افغانستان د امریکايي پوځ د تجهیزاتو د ایستلو بهیر پیل شوی دی. له دې ډلې مېلټري ټایمز ورځپاڼه وایي چې امریکا د خپلو پوځیانو د وتلو لپاره د تیارۍ په لړ کې له دغه هېواد څخه د تجهیزاتو پر ایستلو گړندی کار پیل کړی دی. ورځپاڼه کاږي، چې پوځ نه یوازې د خپلو وسلو او وسایلو په ایستلو د مې تر لومړۍ وړاندې کار پیل کړی، بلکې له سیمه‌ییزو قراردادیانو سره یې هم قراردادونه ډېر کړي، څو د تجهیزاتو په ایستلو کې ورسره مرسته وکړي. بلخوا امریکايي چارواکو ویلي چې دوی د سرتېرو ایستل پیل کړي، خو د سرتېرو د ایستلو پر مهال او تر دې وروسته که اړتیا پېښېږي، دوی په افغانستان کې هوايي بریدونه کولی شي. ډېلي بېسټ خپرونې د امریکايي پوځي چارواکو له قوله ویلي چې له افغانستان څخه د امریکايي سرتېرو تر وتلو وروسته هم د اړتیا په صورت کې هوايي بریدونو ته دوام ورکوي. ډېلي بېسټ د امریکا د مرکزي قومندانۍ د قوماندان جنرال مک‌کنزي له خولې لیکلي چې امریکا به افغانستان کې د ترهگرو فعالیتونه له نږدې څاري او که اړتیا یې وه، نو د بې پیلوټه الوتکو په واسطه به خپلو هوايي بریدونو ته دوام ورکړي. راپور کاږي، امریکا ویلي چې دوی به د خپلو ځواکونو تر وتلو وروسته هم اجازه ورنه کړي چې دغه هېواد یو ځل بیا د ترهگرو پر خوندي ځاله بدل شي.

اسوشیټېډ پرېس بیا په یوه راپور کې ویلي وو چې له افغانستان د ځواکونو د وتلو په تړاو د امریکا د مرکزي استخباراتو یا سي ای اې رییس افغانستان ته راغلی و او دلته یې له افغان چارواکو سره پر مهمو استخباراتي مسایلو خبرې کړې دي. افغان امنیتي چارواکو هم په یوه خبري کنفرانس کې دغه سفر تایید کړی دی.

د امریکايي ځواکونو له وتلو سره هممهاله افغان امنیتي چارواکو ویلي چې طالبانو د روژې له پیل سره هممهاله تاوتریخوالی ډېر کړی دی. د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب په یوه خبري غونډه کې یو ځل بیا وویل چې طالبان پر سوله باوري نه دي او په خبره یې، دغه ډلې د سولې پر ځای د جگړو لار خپله کړې ده او تاوتریخوالی یې ډېر کړی دی.

# تازه شمېرې: په نړۍ کې د کرونا د مړو شمېر له درې میلیونه او ۱۰۲زرو کسانو واوښت

د تازه شمېرو له مخې، په نړۍ کې پر کرونا ویروس د اخته کسانو شمېر ۱۴۶ میلیونه او ۳۴۸ زره او ۵۷۲ کسانو ته رسېدلی دی. دغه راز د یاد ویروس له کبله تر دې مهاله درې میلیونه او ۱۰۲ زره او ۳۴۸ کسان مړه شوي او له ۱۲۴ میلیونو ډېر ترې ببرته رغېدلي دي.

د یادو شمېرو له مخې، د امریکا متحده ایالتونه د دغه ویروس د ډېرو مثبتو پېښو او قربانیانو له اړخه د نړۍ تر ټولو مخکښ هېواد دی. د راپورونو پر بنسټ، په امریکا کې د دغه ویروس مثبتې پېښې ۳۲ میلیونه او ۷۳۵زره او ۷۰۴ ته رسېدلي او ۵۸۵ زره او ۷۵ نور امریکایان ترې مړه شوي دي.

دغه راز هند د ۱٦ میلیونه او ٦۱۰ زره او ۴۸۱ میلیونه مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ دویم، برازیل د ۱۴ میلیونه او ۲۳۸زره او ۱۱۰ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ دریېم، فرانسه د پنځه میلیونه او ۴۴۰ زره او ۹۴٦ مثبتو پېښو له اړخه د نړۍ څلورم او روسیه د څلور میلیونه او ۷۵۳ زره او ۷۸۹ مثبتو پېښو په درلودو سره د نړۍ پنځم هغه هېواد دی، چې د کرونا ویروس ډېرې پېښې پکې ثبت شوې دي.

ترکیه، برېټانیا، ایټالیا، هسپانیا او جرمني بیا په ترتیب سره شپږم، اووم، اتم، نهم او لسم هغه هېوادونه دي چې د کرونا له کبله ډېر ځپل شوي دي.

په ورته مهال پر اروپا سربېره، په اسیايي هېوادونو کې هم د کرونا ویروس مثتبې پېښې او د مړو شمېر د ډېرېدو په حال کې دی. په پاکستان، ایران او هند کې په دې وروستیو کې د دغه ویروس پېښې په مخینې ډول زیاتې شوي او آن د دغو هېوادونو روغتیايي مرکزونه د ناروغانو لپاره د بسترونو له کمښت سره مخ شوي.

د پاکستان حکومت د کرونا ویروس د پېښو له زیاتېدو وروسته د پوځ سرتېري د مرکز اسلام اباد په لارو او کوڅو کې ځای په ځای کړي چې د دغه ویروس د خپرېدو مخه ونیول شي.

د پاکستان لومړي وزیر عمران خان ویلي، چې کروناویروس یې په هېواد کې خطرناکه بڼه خپله کړې او خلک هم احتیاط نه کوي، نو ځکه یې د دغه ویروس د کنټرول او مخنیوي لپاره له پوځ څخه مرسته غوښتې.

د پاکستان د پوځ سرتېري له پولیسو سره په گډه په اسلام اباد کې په لارو او کوڅو کې گرځي راگرځي او خلکو ته د کروناویروس د خپرېدو د مخنیوي جدي سپارښتنې کوي.


په پاکستان کې په دې وروستیو کې هره ورځ شاوخوا ۱۰۰ کسان د کروناویروس له کبله مري او زرگونه نور پرې اخته کېږي.

## د کتــاب خبــرې

# د جاسوسی پېښلړ
# RAW, ISI
# او د سولې وهم

◎ ليکوالان: اې. اېس دولت، اسددورانی او ادېتيا سېنها
◎ ژباړه: د اکسوس د ژباړې بورډ

### پنځمه برخه
### حساسې شېبې




سېنها: نو هند د يو اړخيزو شخصي گټو په لټه کې نه دی؟
دولت: نه، موږ هم د دې يو اړخيزو شخصي گټو په هکله گنگس يوو. دا هېڅ سم نه دي، ان په يو اړخيزه بڼه هم سم نه دي.
هغه زموږ ملگری څوک و، هغه اوږد کس چې تاسې ابو غريب (گوانتانامو) ته ولېږلو؟ ملا ضعيف. عزيز به ويل چې ضعيف په درېيمه کچه کې دی، خو اوس چېرې دی، په کابل کې دی؟
دورانی: هو، ضعيف په کابل کې دی.
دولت: موږ په پگواش او برلين کې اوږدې خبرې وکړې، هغه ويل هند دې ته لېوالتيا نه لري، نو پرېږده يې. په دې وخت کې هغه انگريز لکه نابللی مېلمه هلته و، «عربي قانونگذار»؟ هغه چې پاکستانی ښځه لري؟
دورانی: هو، هو، مايکل سمپل. هغه ايرلېنډی دی.
دولت: د هغه سيمې په هکله هغه ښه پوهېږي. ما په برلين کې له هغه وپوښتل، که د ضعيف سره خبرې ارزښت ولري. هغه وويل ضعيف په کابل کې دی او هلته يوازې اورې او راپور ورکوي.
دورانی: د هند د افغاني پاليسی مخکې ښوونکی بهادرکومار او د سيمه ييزو چارو يو بل متخصص هم اندېښمن دي. په هر حال دا زموږ د کينې او تقابل نهايي حد دی. که چېرې د افغانستان ستونزه هواره شي، تر ټولو ډېره گټه به يې پاکستان ته ورسېږي. کله چې زه متقاعد هندي ډيپلوماتان د دويم دور (Track II) ناستو په لړ کې تنگوم، د دوی غبرگون ډېر له تاوتريخوالي ډک او د کوتيليان په موډ کې داسې ښکاري، لکه د RAW کومې ريښې ته چې گوتې وروړې. دا چې د پاکستان د تخريب لپاره افغانستان کارول کېږي دا بيخي هماغه د گاونډي گاونډي مفهوم دی، چې په لومړي ځل چناکيا کارولی دی. دوی هېڅ موقع له لاسه نه ده ورکړې چې افغانانو ته ووايي، ستاسې ستونزه يوازې له پاکستان سره ده او دوی غواړي چې تاسې يې پنځمه صوبه شئ. زه دا تېر پنځه ويشت کلونه د افغانستان په چارو کې مخامخ او غيرمستقيم دخيل يم، هېچا په دې هکله څه نه دي ويلي، چې گواکې هغه به زموږ پنځمه صوبه شي. موږ په خپلو اوسنيو څلورو صوبو کې هم گڼې ستونزې لرو. ستاسې د بهرنيو چارو يو پخوانی وزير هم د دې اندېښنو زېږوونکی دی. هغه تکراراً افغانانو ته ويل: «تاسې په موږ (۲۰۰) کلونه (که ۴۰۰ کلونه وو؟) حکومت کړی دی، موږ له تاسې سره هېڅ ستونزه نه لرو، دا پاکستانيان دي، چې وايي: افغانانو د مسلمانانو د ميراثدار په توگه په هند حکومت کړی دی.» دا کار د واقعيت له پام کې نيولو پرته په افغانانو کې سم کار کوي. موږ به د هغوی سره ښه کړې وي او ميليونونه افغانانو ته مو د مهاجرت په وخت کې ځای ورکړی و، خو کله چې موږ په بدل کې له دوی څخه د منني تمه لرو، دا نو بيا زموږ ټوله پانگونه بېځايه ځي. زه د طالبانو، داعش او د لوړې له وجې د مهاجرينو د يوه بل هجوم په تمه يم، په هغه کې به موږ د خپلې پخوانی مېلمه پالنې کمی پوره کړو. **دوام لري...**

# مستقبل د لوړو زده کړو موسسه

حميدالله حميدي



مستقبل د لوړو زده کړو موسسه چې په کابل ښار کې موقعيت لري، په ۱۳۹۳ کال کې يې له لوړو زده کړو وزارت څخه په ۸٦مه گڼه باندې د فعاليت جواز تر لاسه کړی دی. د يادې موسسې د علمي مرستيال، نجيب الله نصرت په وينا، دوی د پيل پر مهال دوه پوهنځي، انجنيري او حقوق او سياسي علوم درلودل چې انجنيري پوهنځی يې د سېول يا ساختمان او مهندسی ډيپارټمنټونه او حقوقو او سياسي علومو پوهنځی يې د اداري او ډيپلوماسی او قضا او څارنوالی ډيپارټمنټونه لري. د نوموړي په وينا، د مستقبل د لوړو زده کړو موسسې د استادانو او مسوولينو د هڅو په پايله کې دوی د شرعياتو پوهنځی هم د خپلو پوهنځيو په لېست کې ور زيات کړ، چې ياد پوهنځی هم دوه ډيپارټمنټونه، فقه او قانون او اسلامي تعليمات لري. يانې اوسمهال مستقبل د لوړو زده کړو موسسه د دريو پوهنځيو او شپږو ډيپارټمنټونو په چوکاټ کې خپلې درسي چارې پر مخ بيايي.

د ښاغلي نصرت په وينا، مستقبل د لوړو زده کړو موسسه اوسمهال ټولټال ۱٦۰۰ محصلين لري چې په دې ډله کې ۳۰۰ ښځينه محصلينې او پاتې نور يې هلکان تشکيلوي، چې د يادې موسسې په دريو پوهنځيو کې پر لوړو زده کړو بوخت دي. ښاغلی نصرت وايي، دوی تر دې دمه له خپلو دريو پوهنځيو څخه په پنځو دورو کې شاوخوا ۷۷۵ محصلين فارغ او ټولنې ته يې د خدمت په موخه وړاندې کړي دي.

د مستقبل د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستيال نجيب الله نصرت همدا راز وويل، دوی په خپلو دريو پوهنځيو کې د مختلفې علمي کچې لرونکي استادان لري چې ځينې يې د دوکتورا، ځيني يې د ماسټرۍ او ځينې يې هم د لسانس تر کچې لوړې زده کړې لري. د نوموړي په خبره، د دوکتورا لرونکي استادان يې په شرعياتو پوهنځي کې نسبت نورو پوهنځيو ته زيات دي، همدا راز په حقوقو او انجنيري پوهنځيو کې هم د دوکتورا په کچه د لوړو زده کړو لرونکي استادان لري او پاتې نور يې د ماسټرۍ او لسانس تر کچو لوړې زده کړې لري.

ښاغلي نصرت همدا راز زياته کړه، دوی په هېواد کې د ننه او له هېواده د باندې له ځينو پوهنتونونو سره علمي او اکاډميکې اړيکې لري، داسې چې له هېواده د باندې د ترکيې هېواد له ځينو پوهنتونونو سره متقابلې او علمي اړيکې لري او همدا راز تمه ده چې د نورو گاونډيو هېوادونو له پوهنتونونو سره هم د علمي متقابلو اړيکو او همکاريو تفاهم ليکونه لاسليک کړي او په هېواد کې د ننه هم له ځينو دولتي او خصوصي پوهنتونونو سره نږدې علمي اړيکې او تفاهم ليکونه لري، چې پر بنسټ يې يو له بل سره علمي تجربې او سلا مشورې شريکوي.

د ښاغلي نجيب الله نصرت په وينا، دوی د مستقبل په لوړو زده کړو موسسه کې د محصلينو لپاره مجهز کتابتون لري، چې شاوخوا ۵۰۰۰ جلده کتابونه لري چې محصلين کولای شي خپل د اړتيا وړ مالومات ترې تر لاسه کړي. نوموړي همدا راز وويل، پر ياد کتابتون سربېره دوی د الکترونيکي کتابتون اسانتيا هم رامنځته کړې ده، چې ډېر کتابونه پکې شته او محصلين ترې وخت ناوخت د مطالعې لپاره گټه اخلي.

ښاغلی نصرت وايي چې دوی د خپلو محصلينو لپاره ځينې نورې اسانتياوې هم لري چې له هغې ډلې يې د ښځينه محصلينو لپاره ترانسپورټ، نارينه او ښځينه دواړو محصلينو ته د گروپي مطالعې په موخه بېل او پرمختللی سيستم، د محصلينو لپاره د علمي زده کړو په موخه ځانگړو پروگرامونو او ورته نورو امکاناتو ته اشاره کولای شو.

د مستقبل د لوړو زده کړو موسسې ياد مسوول زياته کړه، دوی د خپلو محصلينو لپاره ځانگړی تخفيف په پام کې نيولی دی. هغه محصلين چې مالي او اقتصادي ستونزې ولري، د يادې موسسې د اداري لخوا ځانگړی تخفيف ورکول کېږي. د نوموړي په وينا، پر ياد تخفيف سربېره دوی له ځينو ادارو لکه د ځوانانو معينيت، مدني ټولنو او ورته نورو ارگانونو سره د متقابلو مرستو تفاهم ليکونه لاسليک کړي دي، چې پر بنسټ يې بېوزله او مالي ستونزې لرونکي محصلين دوی ته ورپېژندل کېږي او دوی ورته په تحصيلي فيس کې ځانگړی تخفيف ورکوي.

د ښاغلي نصرت په وينا، دوی خپلو فارغ شوو محصلينو ته په لوړو زده کړو وزارت کې ثبت او راجستر شوي اسناد ورکړي دي. نوموړی زياتوي چې د مستقبل د لوړو زده کړو موسسې اداره په ياده برخه کې پر وخت کوټلي گامونه اخلي او د محصلينو له فراغت سره سم ورته تحصيلي اسناد چمتو کوي او دوی ته يې د لا ډېرې گټې اخيستو په موخه سپاري.

ښاغلي نصرت وويل، دوی د دولتي او خصوصي پوهنتونونو تر منځ کوم ځانگړی توپير نه ويني، يوازې دومره ده چې د دولتي پوهنتونونو او علمي مرکزونو مالي ملاتړ د دولت لخوا کېږي، خو ښوونيز نصاب د دواړو دولتي او خصوصي پوهنتونونو لپاره د لوړو زده کړو وزارت له لايحې او قوانينو سره سم ترتيبېږي او د تدريس لارښوونه يې کېږي.

د مستقبل د لوړو زده کړو موسسې علمي مرستيال ښاغلي نجيب الله نصرت وويل، دوی د ورځې په دريو درسي ټايمونو کې خپل محصلين د زده کړو لپاره را غواړي چې يوه يې سهارنی، بله يې له غرمې وروسته او درېيمه يې هم ماښامنی دوره ده.

ښاغلی نصرت زياتوي چې دوی د موسسې د لا ښداينې لپاره په نږدې راتلونکې کې ځينې پلانونه لري، چې تمه لري د تضمين کيفيت او اعتبار ورکړې پروسو له بشپړولو وروسته به يې پلي کړي. له دې ډلې کولای شو د ماسټرۍ پروگرام رامنځته کولو، د موسسې موقعيت، امکاناتو او شرايطو ته په کتو د اقتصاد، کمپيوټر ساينس او معالجوي طب په گډون، د نوو پوهنځيو رامنځته کولو او ورته نورو پروگرامونو ته اشاره وکړو.

په پای کې ښاغلي نجيب الله نصرت وويل، د مستقبل د لوړو زده کړو موسسې اداري هيئت او مسوولين له دولت او په ځانگړې توگه له لوړو زده کړو وزارت څخه غواړي چې د خصوصي پوهنتونونو او لوړ زده کړو موسسو لپاره په ترتيب شوو لايحو، مقرراتو او تگلارو کې اسانتياوې رامنځته کړي، د يادو موسسو او پوهنتونونو ستونزو ته رسيدگي وکړي، دا چې ياد مرکزونه له دولت سره همکار او همغږي دي؛ نو بايد لا ډېره پاملرنه ورته وشي او په يادو برخو کې يې تر منځ انډول په پام کې ونيول شي. د نوموړي په وينا، له دولت څخه هم غواړي چې خصوصي سکتور په ځانگړې توگه علمي او اکاډميکې برخې ته لا ډېره پاملرنه وکړي.

**مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی**
**Citizens Organization for Advocacy and Resilience**
**اعلان داوطلبی**

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسهGPE-UNICEF تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) در ولایت غزنی به تعداد ۱۴۴۰۰ بسته کتاب صنف اول و دوم خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی و مطبعه‌ها که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (25April /2021) الی (5May /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

**خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .**
procurement@coar.org.af

**مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی**
**Citizens Organization for Advocacy and Resilience**
**اعلان داوطلبی**

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه IRC تصمیم دارد که در ولایت کندهار برای حفظ الصحه شاگردان یک مقدار صابون دیتول خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.a4cbar.org.af از تاریخ (25April /2021) الی (5May /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

**خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .**
procurement@coar.org.af

## اقتصاد

### د اسعارو بیې

| | |
|---|---|
| $ | ۷۷,۴۵ |
| € | ۹۲,۸ |
| Rp. | ۴۹۲ |
| ₹ | ۱۰۶۵ |
| ¥ | ۱۱ |
| £ | ۱۰۵,۸ |

### بیړنۍ شمیرې

پولیس
119 - 100

امبولانس
112

اتاترک روغتون
0202500312

ملالی زیږنتون
0202201377

وزیر محمد اکبر خان روغتون
0202301360

رابعه بلخي روغتون
0202100439

د کرونا روغتیایي مرکز
166

همیانی

# تأثیر و نشانه‌های عزت نفس پایین در روابط عاطفی و نحوه درمان آن

**امین همتی**

وقتی به عزت نفس پایین فکر می‌کنید، چه نشانه‌هایی در ذهنتان پدیدار می‌شود؟ شاید دوستی را تصور کنید که خجالتی است و نمی‌تواند در جمع سخنرانی کند یا به یاد پرسش‌هایی بیفتید که افراد درباره ظاهرشان از شما می‌پرسند. منتها این‌گونه نیست که عزت نفس پایین همواره نشانه‌های آشکاری داشته باشد. گاهی برای کشف این مشکل باید روابط اجتماعی و عاطفی فرد با دیگران را بررسی کنیم یا به خاطرات کودکی‌اش سری بزنیم. در این مقاله، درباره عزت نفس پایین و تأثیرات مخربش بر روابط صحبت می‌کنیم.

**عزت نفس پایین به چه معناست؟**

عزت نفس یکی از مهم‌ترین شاخصه‌های کیفیت‌بخش به زندگی ماست. این احساس درونی نقش مهمی بر جنبه‌های گوناگون زندگی‌مان دارد.

به زبان ساده، عزت نفس یعنی احترامی که فرد برای خودش در جایگاه انسان قائل است. این احترام و عزت باعث می‌شود هر گفتار، کردار و پنداری را شایسته خود نداند و برای مثال وارد هر رابطه‌ای نشود.

پایین‌بودن این احساس در یک فرد یعنی او خود را شایسته دستیابی به اهدافی که در زندگی تعیین کرده نمی‌داند. در نتیجه، خود را از زندگی شاد محروم می‌کند. عزت نفس پایین تأثیرات مخربی بر روابط عاطفی و اجتماعی افراد دارد و آنها را از بهره‌مندی از رابطه‌ای مطلوب محروم می‌کند.

**عزت نفس پایین چه ریشه‌هایی دارد؟**

عزت نفس پایین اغلب ریشه در تجارب و تربیت دوران کودکی دارد. کودکانی که روابط مطلوبی با والدین نداشته‌اند و مدام از سوی آنها تحقیر و توهین می‌شنیده‌اند همیشه به خودشان شک دارند و توانایی‌ها و ارزش وجودی خود را نادیده می‌گیرند. کودک همین عزت نفس لگدمال‌شده را با خود به بزرگ‌سالی منتقل می‌کند. او در روابط و سایر تعامل‌هایش، این احساسات ناخوشایند را به همراه خواهد داشت.

**نشانه‌های عزت نفس پایین در روابط کدام‌اند؟**

عزت نفس پایین، در روابط عاطفی به شیوه‌های مختلفی بروز می‌یابد. به‌طور کلی می‌توان آنها را به‌صورت زیر عنوان کرد:

**۱. حسادت در رابطه**

فردی که عزت نفس پایینی دارد همیشه نگران است شریک عاطفی‌اش جذب دیگران شود. او چون خود را ناشایست و ناکافی می‌بیند، می‌پندارد شریکش هر لحظه ممکن است او را رها کند و برود؛ پس از خود حس حسادت نشان می‌دهد و چون شریکش نمی‌تواند در همه زمان‌ها در دسترسش باشد، مضطرب می‌شود. این اضطراب و بی‌اطمینانی در نهایت به سوءبرداشت و نتیجه‌گیری‌های غیرمنطقی از رفتار طرف مقابل منجر می‌شود.

**۲. به دنبال تأیید دیگران بودن**

فردی که دچار این مشکل است مدام می‌کوشد تأیید دیگران را بگیرد. او می‌خواهد جای خالی ارزشی را که برای خودش قائل نیست با تحسین دیگران پر کند. او در این راه از خواسته‌ها و نیازهایش چشم‌پوشی می‌کند.

**۳. احساس شرم و گناه**

فردی با عزت نفس پایین به دشواری از دیگران کمک می‌طلبد، چون حس می‌کند مزاحم دیگران است و از این بابت احساس گناه و شرم می‌کند.

**۴.ناتوانی‌دربیان‌احساسات‌وخواسته‌ها**

افرادی که به عزت نفس پایین دچارند ترجیح می‌دهند مدام سکوت کنند و از خواست‌ها و نیازهای خود حرفی نزنند، چراکه می‌ترسند با بیان احساسات و خواسته‌هایشان طرف مقابل را ناراحت و از خود دور کنند.

**۵. تلاش برای ماندن در روابط مضر**

چنین افرادی اغلب در روابط سمی باقی می‌مانند؛ حتی وقتی می‌بینند طرف مقابل در حال سوءاستفاده از آنهاست. آنها می‌ترسند رابطه‌ای را که دیگر تمام شده یا مضر است ترک کنند.

**٦. حساسیت و تحریک‌پذیری**

فردی با عزت نفس پایین اغلب تحمل انتقاد را ندارد و در برابر ناملایمات رابطه واکنش مناسبی نشان نمی‌دهد؛ برای مثال، وقتی طرف مقابل می‌خواهد مدتی تنها باشد، دیگری این درخواست را به‌معنای پس‌زده‌شدن تلقی می‌کند و فورا واکنش هیجانی نشان می‌دهد، که این خود به بروز جدل منجر می‌شود.

نتیجه چنین جدال‌هایی هم روشن است: کاهش بیشتر عزت نفس، چراکه فرد پس از روشن‌شدن رفتار غیرمنطقی‌اش، دوباره خودش را سرزنش می‌کند.

برای درمان عزت نفس پایین چه می‌توان کرد؟

خوشبختانه عزت نفس از جمله احساساتی است که می‌توان آن را بهبود بخشید. مشاوره فردی و زوج‌درمانی ریشه‌های کمبود عزت نفس را روشن می‌کند و به مشاور یا زوج‌درمانگر اجازه می‌دهد با تغییر نگرش‌ها و رویکردهای فرد نسبت به خود، عزت نفسش را ترمیم و تقویت کند. روش‌هایی که درمانگران استفاده می‌کنند باهم متفاوت‌اند، روش‌هایی مانند رفتار درمانی شناختی (CBT)، درمان مبتنی بر پذیرش و تعهد (ACT)، طرحواره درمانی و روایت درمانی.

جدای از این روش‌های درمانی کارآمد، کارهای کوچک اما اثرگذاری هم هست که خودتان می‌توانید انجام دهید. یکی از آنها طرح خواسته‌ها و نیازهایتان با شریک عاطفی است. لازم نیست یک‌باره همه آنها را مطرح کنید. از خواسته‌های ساده و کوچک شروع کنید؛ برای مثال، از او بخواهید شما را در آغوش بگیرد یا او را به یک دورهمی با خانواده‌تان دعوت کنید. یکی دیگر از کارهایی که می‌توانید بکنید توجه به احساسات و مکالمات درونی خودتان است. عزت نفس پایین معمولا با سرزنش‌کردن خود همراه است. به جملات و کلماتی که به خود می‌گویید توجه کنید و آنهایی را که شما را آزار می‌دهند و تحقیر می‌کنند کنار بگذارید. با وجود این، اگر احساس می‌کنید عزت نفس پایینی دارید، بهترین روش مراجعه به روان‌شناسانی است که در زمینه درمان این مسئله تخصص دارند.

# محب: بهرنی ځواکونه له وتلو سره سم افغان پوځ ته د یو میلیارد ډالرو په ارزښت پوځي تجهیزات سپاري

د ملي امنیت شورا سلاکار حمدالله محب وايي، افغان ځواکونو ته د یو میلیارد ډالرو په ارزښت پوځي تجهیزات سپارل کېږي.

نوموړی زیاتوي چې یاد پوځي تجهیزات په افغانستان کې د مېشتو بهرنیو ځواکونو دي، چې د دوی د وتلو پر مهال به افغان ځواکونو ته وسپارل شي.

د نوموړي په خبره: «هغه ټول افغان امنیتي ځواکونو ته ورکوي، بل ځینې اوازې که د باندې خلک وايي، یو تعداد هغه شیان چې کباړ شوي، هغه ایستل کېږي او هغه خرڅېږي، ځکه هغه کباړ دي او زموږ هم نه دي پکار چې قول اردوګان له کباړو نه ډک کړو، ولې نور تجهیزات چې څه ورسره دي، دلته دي او قابل د انتقال دي، هغه ټول افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو ته په تعداد د یو میلیارد ډالرو تجهیزات سپارل کېږي، د همدې انتقال په دوره کې.»

محب وايي چې له افغانستان څخه د بهرنیو ځواکونو تر وتلو وروسته به هم له افغان ځواکونو سره د هغوی مالي او تخنیکي مرستې دوام ولري. د ملي امنیت شورا سلاکار په وینا، افغان هوايي ځواک هم پر خپلو پښو درېدو ته نږدې شوی دی. محب زیاتوي چې افغان حکومت په هوايي برخه کې پرتې تشې تر ډېره حده ډکې کړې، چې په وینا یې، پاتې تشې به هم د بهرنیو ځواکونو تر وتلو پورې ډکې شي.


هغه وايي: «فعلاً موږ خپل او د افغانستان د خلکو په خدمت کې ۱٦۳ باله طیارې لرو، تقریباً په ټول افغانستان کې زموږ ستونزې هواروي. دا بېلابېلې طیارې دي.»

په ورته مهال د ملي دفاع وزارت سرپرست یاسین ضیا وايي چې اوسمهال یوازې په بلخ او کابل کې د ناټو پوځي اډې شتون لري او په وینا یې، په نورو ټولو ولایتونو کې د ناټو لوی او واړه مرکزونه افغان ځواکونو ته سپارل شوي دي. دا څرګندونې مهال کېږي، چې ټاکل شوې امریکا او ناټو د راتلونکې مې میاشتې په لومړۍ نېټې له افغانستان څخه د خپلو ځواکونو د ایستلو بهیر پیل او د سپټمبر تر ۱۱مې پای ته ورسوي. د یادونې ده چې اوسمهال په افغانستان کې شاوخوا ۱۰۵۰۰ بهرني عسکر حضور لري چې له افغان ځواکونو سره د روزنې، سلامشورو او تجهیز په برخو کې همکاري کوي او په ځینو عملیاتو کې له افغان ځواکونو څخه هوايي ملاتړ کوي.

# کورنیو چارو وزارت: د روژې میاشتې له پیل راهیسې ۲۰۰ نظامیانو او ملکیانو ته مرګ ژوبله اوښتې

کورنیو چارو وزارت وايي، په روژې میاشت کې په هېواد کې جګړې شدیده شوې چې له کبله یې ګڼو کسانو ته مرګ ژوبله اوښتې ده.

دغه وزارت وايي چې د روژې میاشتې له پیل راهیسې له ۱۵۰ زیات افغان ځواکونه او او ملکیان وژل شوي دي. د دغه وزارت مرستیال ویاند حمید روښن زیاتوي: «طالبانو بیا په ډاګه کړه چې دوی هېڅ ډول انساني، اسلامي او اخلاقي اصولو ته پابند نه دي، یوازې د روژې مبارکې میاشتې له پیله تر دې دمه د طالبانو له خوا شاوخوا سل تنه پوځیان او له ۵۰ تنو زیات ملکیان چې پکې ښځې او ماشومان هم شامل دي، د دوی له خوا په بېلابېلو حملو کې شهیدان شوي دي.»



کورنیو چارو وزارت وايي چې په یادې مودې کې تر ۵۰ زیات افغان ځواکونه او ملکیان ټپیان هم شوي دي. په ورته وخت کې د ملي دفاع وزارت ویاند روح الله احمدزی وايي چې د طالبانو د بریدونو په ځواب کې عملیات روان دي. هغه زیاتوي: «طالبانو د روژې په مبارکه میاشت کې تاوتریخوالی لا زیات کړ او د افغان ولس پر وړاندې یې بریدونه ترسره کړل، افغان امنیتي او دفاعي ځواکونو د هېواد په بېلابېلو سیمو کې د دښمن زیات بریدونه او شوم پلانونه خنثی کړي چې زموږ د ځوابیه حملاتو په پایله کې دوی ته درانه تلفات هم اوښتي دي.»

خو طالبان بیا د افغان امنیتي بنسټونو دغه ادعاوې ردوي او وايي چې افغان ځواکونه عملیات کوي او دوی یې غبرګون ته اړ کړي دي. د طالبانو ویاند ذبیح الله مجاهد وايي چې دوی د تېر په پرتله جګړه راکمه کړې او یوازې د مقابل لوري د جګړو او حملو پر وړاندې ځوابیه بریدونه کوي.

په ورته مهال د سولې ولسي حرکت د افغانستان په ۲۵ ولایتونو کې د «دا چې بهرنیان وځي، نو جګړه د څه لپاره؟» د جګړو د پای ته رسېدو د غوښتنې لپاره خبري کنفرانسونه جوړ کړي دي.

د دغه حرکت مشر اقبال خیبر وايي چې نور په افغانستان کې د جګړو لپاره هېڅ ډول پلمه نشته. خیبر زیاتوي، جګړې خپل اوج ته رسېدلې او هره ورځ ګڼ افغانان په بېلابېلو جګړو او چاودنو کې وژل کېږي.

مسیر ورځپانه
**مسوول مدیر:** اسدالله وحیدي
**مرستیال:** شفیق امیرزی
**اېډیټران:** جواد تیموري او امان الله حنیفي
**خبریالان:** حمیدالله حمیدي، حکمت آرین
او حشمت الله نوري
**ګرافیک او ډیزاین:** ارمان
**چاپخونه:** وایګل چاپ ۰۲۰۲۵۱۲٦۲٦
۰۷۸۲۹۸۹٦۹٦

maseerdaily@gmail.com
0202502100 / 0777989696
www.maseerdaily.af
Maseer Daily
MaseerDaily

# Maseer

New Vision, New Journey

Daily



WAYGAL
PRINTING CO

غوره کیفیت او چټک خدمات په
وایګل چاپ کې تجربه کړئ!

وایګل چاپ
WAYGAL Printing Co.

+93 (0) 202 51 2626, +93 (0) 782 98 9696
waygalprinting.co@gmail.com waygalprinting.co
Dehbori Crossroads in Front of Park Kabul



یکشنبه د ۱۴۰۰ د غویي پنځمه | د ۲۰۲۱ د اپریل ۲۵مه | ۷۱۲مه ګڼه

www.Maseerdaily.af twitter/MaseerDaily Facebook/MaseerDaily


یکشنبه ۱۴۰۰/۰۲/۰۵

د سهار اذان ۰۳:۳۶ د ماښام اذان ۰۶:۳۸

رمضان کریم

| کابل | هرات | ننګرهار |
| --- | --- | --- |
| ۲۷ | ۳۳ | ۲۶ |
| ۱۱ | ۱۳ | ۱۹ |

شرعي وختونه: سهار ۰۳:۳۶ | لمر ختل ۰۵:۱۱ | ماسپښین ۱۱:۵۲ | مازیګر ۰۴:۳۸ | ماښام ۰۶:۳۸ | ماخوستن ۰۷:۵۹

## نړۍ




## مسئولان: فعالیت سیلوی مرکزی پس از ۳۰ سال توقف از سر گرفته می‌شود



فعالیت سیلوی مرکزی کابل پس از ۳۰ سال وقفه قرار است به زودی از سر گرفته شود. عتیق‌الله بیقرار، رئیس سیلوی مرکزی، می‌گوید که کار تولید نان در سیلوی مرکزی با دو داش نان‌پزی در آینده نزدیک آغاز می‌شود. ریاست سیلوی مرکزی ٦٥ سال پیش به فعالیت آغاز کرد.

در گذشته از این فابریکه به عنوان مکانی برای پخت و توزیع نان به اداره‌ها و دانشگاه‌های دولتی استفاده می‌شد. در نخست فعالیت این سیلو با ظرفیت ذخیره ۲۰ هزار تُن گندم و یک دستگاه آسیاب آغاز شد. سیلوی مرکزی در آن زمان با ظرفیت تولید ٦٠ تا ۹۰ تُن آرد در ۲۴ ساعت فعالیت می کرد.

یک فابریکه نان‌پزی نیز با ظرفیت تولید ۵۲.۷ تُن نان، ناشتا و کلچه در ۲۴ ساعت در سیلوی مرکزی فعال بود. به گفته عتیق‌الله بیقرار، سیلوی مرکزی پیش از سال ۱۳۷۱ سالانه چهارهزار و ۳۰۰ میلیون افغانی عاید داشت که ۵۰۰ میلیون آن مفاد فابریکه به حساب می‌آمد. از این میان ۱۰۰ میلیون آن به حساب دولت انتقال می‌یافت. اکنون عاید سالانه این تصدی از ۳۵ میلیون افغانی بیش‌تر نمی‌شود.

گفتنی است که سیلوی مرکزی از زمان آغاز فعالیت‌ش تا قبل از جنگ‌های داخلی دو هزار کارمند داشت؛ اما اکنون این رقم به ۱۳۳ کارمند کاهش یافته است.


CoAR 1989

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی

Citizens Organization for Advocacy and Resilience

اعلان داوطلبی

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه IRC تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) در ولایت کندهار به تعداد ۵۸۹ کیت‌های صنفی خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (25April /2021) الی (5May /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .

procurement@coar.org.af



CoAR 1989

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی

Citizens Organization for Advocacy and Resilience

اعلان داوطلبی

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه IRC تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) در ولایت کندهار به تعداد ۶۰۵ کیت‌های معلمین خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (25April /2021) الی (5May /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .

procurement@coar.org.af



CoAR 1989

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی

Citizens Organization for Advocacy and Resilience

اعلان داوطلبی

مؤسسه مدنی دادخواهی و توانمندی (COAR) به کمک مالی مؤسسه IRC تصمیم دارد برای تطبیق پروژه (تعلیمی) در ولایت کندهار به تعداد ۲۰۰۵۱ کیت‌های متعلمین خریداری نماید. انعده شرکت‌های لوجستیکی که دارایی تجربه کاری مرتبط و لایسنس مدار اعتبار باشند، لطف نموده شرطنامه را از سایت www.acbar.org.af از تاریخ (25April /2021) الی (5May /2021) به دست آورد و افرهای قیمت‌دار سربسته خویش را الی تاریخ متذکره به آدرس ذیل بسپارد:

خانه نمبر ٤٨ نارسیده به پل وحدت، پل سرخ کارته چهار ناحیه سوم شهر کابل .

procurement@coar.org.af





عزیزي بانک
Azizi Bank

WOMEN'S
CURRENT ACCOUNT



د میرمنو لپاره ځانګړی جاري حساب

عزیزي بانک خوښ دی چې تاسو ته د میرمنو جاري حساب درپېژني چې د افغانستان د درنو او قدرمنو میرمنو لپاره ځانګړی شوی محصول دی. میرمنې کولی شي په اې ټی ام او ماسټر ډبټ کارتونوکې د تخفیف له فیس سره په افغانیو او ډالرو کې پرانیزي. یاد حساب د ساتندویه او لنډ پیغام فیس پرته پرانېستلی شي. همداراز د میرمنو حساب له ټیټ ارتیاوړ بیلانس سره یعنې 500 افغانیو او50 ډالرو سره پرانېستل کېږي چې میرمنو ته آسانه او ارزانه بانکوالی چمتو کوي.

www.azizibank.af 1515